ليکوال: شريف بهاند 26 فبروری، ۲۰۰۹

# په نړيوالو اړيکو کې د نوی پړاو پيل

## لومړی برخه

د تيرې پيړی له شپږمې لسيزې راپدېخوا هر کال د فبروری په مياشت کې د المان په سويلی ښار، مونشن کې د نړيوال امنيت په اړه **نړيوال کنفرانس جوړيږي. د دغه کنفرانس نوښتگر** د المان د پوځ پخوانی نامتو افسر، اِوالد ـ هاينريش فون کلېست ـ شمينځېن Ewald-Heinrich von Kleist-Schmenzin دی. په پيل کې نړيوال امنيتي کنفرانس د "دفاع پېژندنې د ګنګرې Wehrkundetagung " په نامه ياد او په هغه کې به د لويديزې نړی د ملی، سيمه ييز او نړيوال امنيت د چارو او پوځي کار پوهانو او همدارنګه د وسلو جوړولو د صنايعو خاوندانو برخه اخيسته او نړيوالي چارې به يې د امنيت او دفاع له پلوه ارزولې [1]. خو د سړې جګړې له پايته رسيدو په تيره د دريمې زريزې له پيل څخه راپدېخوا په نړيواله کچه د سياسي، پوځي او اقتصادي پرمختياوو له امله، د کنفرانس شعار هم بدلون او هر کال تر بيلابيل هغه لاندې تر سره کيږي. سږنی کنفرانس هم د نړيوالو شرايطو او اوسمهاليزو هغو ستونزو، چې بشريت ورسره لاس او ګريوان دی، په پام کې نيولو سره، د " نړيوالو اړيکو نوی پړاو " تر سرليک لاندې د روان کال د فبروری له ۶ ـ ۸ پورې جوړ او د برخه والو له خوا په تيره:

- د اتمي وسلو له پراختيا څخه مخنيوی (په تيره د ايران د اتمي پروګرام کړکيچ) ؛
- د وسلو کنترول؛
- د اروپا د انرژی امنيت؛
- د منځنې ختيځ او افغانستان کړکيچ؛
- د ناتو د سازمان پراختيا او له اوسمهاليزو شرايطو سره د هغه په ستراتيژی کې بدلون؛
- او د نړيوال مالي کړکيچ، په اړه مقالي او وينا وې وړاندې کړې. پرته له دې چې د سولې او يا بل څه په اړه کوم تړون لاسليک شي، د پورتنيو ستونزو په برخه کې وينا کونکو د خپلو دولتونو دريځونه روښانه او خبرې اترې تر سره کړې.

لکه څنګه چې يادونه وشوه، د نورو تر څنګ د کنفرانس بنسټيزه موضوع د وسلو کنترول او د اتمي هغو نه پراختيا وه. دې ستونزې ته په نغوتې سره، د کوربه هيواد د بهرنيو چارو وزير، فرانک والتر شتاينماير په خپلې پرانيستونکې وينا کې ووېل: "په تاريخ کې نوی څپرکی پرانيستل شوی. د امريکا په متحدو ايالتونو کې يو ولسمشر د چارو واګی ترلاسه کړي، چې په ټوليزه توګه د امنيت او بې وسلې کولو د مسايلو په اړه د نوی تفکر وړانديز ... او په ريښتيا هم د هغه غوښتونکی دی. د روسيې ولسمشر [دمتيری مديدوف] هم له نوی پيښت سره تړاو لری او تر پوتين څخه ډير لږ د سړې جګړې [د شرايطو] تر اغيز لاندې دی، هغه هم په دې اړه ورته وړانديزونه وړاندې کړي دي" [2]. خو پوښتنه دا ده، چې په ريښتيا هم دغه هيوادونه د بې وسلې کولو او د نړيوالو کړکيچونو د حل غوښتونکي دي؟ راځي لومړی د شميرو (ارقامو) په رڼا کې وګورو، چې کوم هيوادونه او نړيوال سازمانونه تر ټولو زيات دا ډول وسلې په خپل واک کې لري او کلنی پوځي لګښت يې په دې برخه څومره دی؟ او د منځنې ختيځ، افغانستان او نړيوال مالي کړکيچ رامنځته کونکي څوک دي؟

د ۲۰۰۷ کال شميرې ښيي، چې د نړی ټوليز پوځي لګښت ۲۱۴ .۱ ميليارد ډالره و. د هغه دوه پر دريمه برخه، جی اوو (G-7) شتمنو صنعتي هيوادونو کړی دی. يا په بله وينا د نړی له ټوليز پوځي لګښت څخه، ۲۱۴ .۱ ميليارد ډالره، يوازې د ناتو غړو هيوادونو ۸۲۳ ميليارد ډالره او په همدې کال کې د روسيې، چين، هند ... او داسې نورو تر څنګ د هغې د نورو هيوادونو پوځي لګښت ۳۹۱ ميليارد ډالره و [3]. لاندې جدول د نړی د هيوادونو پوځي او د وسلو د پراختيا لګښت لا په ښه توګه روښانه کوي.

په ۲۰۰۷ کال کې د نړی پوځي لګښت

| | حقيقي | سلمه |
| --- | --- | --- |


افغان جرمن آنلاين شما را صميمانه به همکاری دعوت می نمايد. لطفاً به آدرس ذيل با ما تماس بگيريد
maqalat@afghan-german.de

| | | |
|---|---|---|
| نړۍ | ۱. ۲۱۴ میلیارده | ۱۰۰ |
| د ناتو پوځي سازمان | ۸۲۳ میلیارده | ۶۷، ۸ |
| د چین ولسی جمهوریت | – | ۴، ۸ |
| جاپان | – | ۳، ۶ |
| د روسیي فدراسیون | – | ۲، ۹ |
| هندوستان | – | ۲، ۰ |
| برازیل | – | ۱، ۳ |
| د نړۍ پاتي ۱۶۲ هیوادونه | – | ۱۷، ۶ |

اخځ:

ISW: Grafik-Report, Nr. 12, S. 2, Januar 2009, München

که د ناتو د غړو هیوادونو تر منځ هم پوځي او د بیلا بیلو وسلو د پراختیا لګښت سره پرتله شي، په دي برخه کي هم د دوي تر منځه زیات توپیر تر سترګو کېږي. په ټولیزه توګه په ۲۰۰۷ کال کي د ناتو د سازمان پوځي لګښت ۸۲۳ میلیارد ډالره یا د نړۍ له ټولو هغو څخه ۸ ،۶۷ ٪ و، چي له دغي شمېرې څخه یوازي د متحده ایالتونو لګښت ۵۴۷ میلیارد ډالره یا ۱ ،۴۵ ٪ او د نورو غړو هیوادونو هغه ۲۷۶ میلیارد دالرو ته رسیده. وګورئ لاندي جدول.

په ۲۰۰۷ کال کي د ناتو د غړو هیوادونو پوځي لګښت
شمېرې په سلمه

| ګڼه | هیوادونه | لګښت |
|---|---|---|
| ۱ | د امریکا متحده ایالتونه | ۴۵، ۱ |
| ۲ | بریتانیا | ۴، ۹ |
| ۳ | فرانسه | ۴، ۴ |
| ۴ | المان | ۳، ۰ |
| ۵ | ایټالیا | ۲، ۷ |
| ۶ | د ناتو نور غړي هیوادونه | ۷، ۷ |

اخځ:

ISW: Grafik-Report, Nr. 12, S. 2, Januar 2009, München

که د اتمي وسلو په برخه کي د نړۍ هیوادونه یو له بل سره پرتله شي، په دي برخه کي هم همدا شانی توپیر تر سترګو کېږي. د ستکهلم د سولي د څېړني د نړیوالي موسسي Stockholm International Peace Research Institute (SIPRI) د رپوټ له مخي په ۲۰۰۸ کال کي، د نړۍ اتو (۸) اتمي ځواکونو ۲۰۰ ،۱۰ ګڼي اخیستني ته چمتو اتمي توغندي (سر بیره پر هغه ۰۰۰ ،۲۵ سرکلولي) په خپلو زیرمتونونو کي لرل، چي له هغو څخه په زرګونه یي له یوي دقیقي څخه په لږ وخت کي توغولو ته چمتو وو [۴]. د چرچیل په وېناد وحشت د انډول دغه څېره لاندني جدول لا په ښه توګه روښانه کوي.

نړیوال اتمي ځواکونه او د هغوي د اتمي راکتونه شمېر

| ګڼه | اتمي ځواکونه | د اتمی بم د ازمويني کال | د اتمي راکتونو شمېر |
|---|---|---|---|
| ۱ | د امریکا متحده ایالتونه | ۱۹۴۵ | ۳۵۷۵ + ۵۰۰ تکتیکي سرکلولي |
| ۲ | د روسیي فدراسیون | ۱۹۵۲ | ۳. ۱۱۳ + ۲. ۰۷۹ تکتیکی سرکلولي |
| ۳ | فرانسه | ۱۹۶۰ | ۳۴۸ |
| ۴ | بریتانیا | ۱۹۵۲ | ۱۸۵ |
| ۵ | د چین ولسی جمهوریت | ۱۹۶۴ | ۱۶۱ |
| ۶ | اسراییل | – | له ۸۰ څخه زیات |

| | | | |
|---|---|---|---|
| ۷ | هندوستان | ۱۹۷۴ | ۶۰ ـ ۷۰ |
| ۸ | پاکستان | ۱۹۹۸ | ۶۰ |

اخځ:

ISW: Grafik-Report, Nr. 12, S. 3, Januar 2009, München

دغه ګواښ ته په پاملرنې سره، څکه شتاین مایر د نورو تر څنګ په خپله وینا کې په دې ټینګار وکړ، چې اتمي ځواکونو ته دا مسؤلیت هم ور په غاړه دی، چې د خپلو دا ډول وسلو له منځه وړل تر لاس لاندې ونیسی. د نوموړي په وینا: "موږ د یوې سکې له دوو مخو سره مخامخ یو، که موږ له یوپخوا د نوو اتمي ځواکونو له رامنځته کیدو څخه مخنیوي کوو، اړینه ده چې اتمي ستر ځواکونه هم د خپلو اتمي وسلو په زیرمتونو کې کمښت رامنځته کړي" [۵]. خو د وینا او کړنې تر منځ ستر واټن دی. څکه لویدیز هیوادونه پر نړۍ باندې د خپلې برلاسی (هژمونې) د ساتنې او د هغې د پراختیا لپاره نه یوازې دا چې د بې وسلو کولو او د اتمي وسلو د له منځه وړلو په لټه کې نه دي، بلکې له اوسنیو شرایطو سره سم، خپل پوځونه په نوو هغو سمبالوي، چې ښه بیلګه یې بریتانیا، فرانسه او متحده ایالتونه او په خپله کوربه هیواد، المان دی. بریتانیا او فرانسه خپل سمندري پوځونه په نوو اتمي وسلو سمبالول غواړي، د متحده ایالتونو دولت د توغندیو د نوی دفاعي سستیم د پراختیا په لټه کې دی. دغه هیواد " له کال ۲۰۰۳ څخه تر ۲۰۰۸ کال پورې ۵۰ میلیارد ډالره په دې برخه کې لګولي دي ... او له کال ۲۰۰۹ ـ ۲۰۱۳ پورې نور ۴۸ میلیارد ډالره هغه ته ځانګړي کړي دي" [۶]. کوربه هیواد چې د بې وسلو کولو ناري سورې وهي، د ناټو د غړي هیواد په توګه د خپل پوځ د پیاوړتیا او په نوو وسلو د سمبالو لپاره ۹۰ میلیارده یورو ځانګړې (تخصیص) کړې، چې لاندنې شمېرې د ځینو وسلو ډول، شمېر او لګښت په ښه توګه روښانه کوي.

د المان د پوځ د درنو وسلو پلان (لګښت په میلیارد یورو)

| د وسلو ډول | د پروژې پیل | د وسلو شمېر | تولیز لګښت |
|---|---|---|---|
| یورو فیټر بم غورځونکي الوتکي | ۲۰۰۳ | ۱۸۰ | ۲۳، ۳ |
| جګړه ییزې چورلکي | ۲۰۰۵ | ۸۰ | ۵، ۱ |
| ترانسپورتي چورلکي | ۲۰۰۶ | ۱۳۴ | ۴، ۰ |
| ترانسپورتي الوتکي | ۲۰۱۱ | ۶۰ | ۹، ۳ |
| زغروالي شوبلي | ۲۰۱۰ | ۴۱۰ | ۴، ۸ |
| پوځي بیړۍ | ۲۰۱۴ | ۴ | ۲، ۷ |

اخځ:

ISW: Grafik-Report, Nr. 12, S. 49, Januar 2009, München

د پوځ او وسلو لپاره دغه لګښت لکه څنګه چې دغه هیوادونه ادعا کوي، د دوی د دفاع لپاره نه، بلکې د دوی د ستراتیژیکو ګټو د ترلاسه کولو، د برلاسی د تضمین او د ځواک د پراختیا په خاطر دی. په هغو کې بنسټیزه موخې:

- د نړۍ د طبیعي توکو پر پاتي زیرمو، په تیره د تیلو او ګازو پر هغوي کنترول ترلاسه کول ؛
- د نوو سیالانو له رامنځته کیدو څخه مخنیوي او
- د اوسنیو هغو، د بیلګې په توګه د روسیې د فدراسیون او د چین د ولسی جمهوریت، د محاصرې بشپړول، دي.

په تیره د وروستی تکی په اړه د امریکا د متحدو ایالتونو د پخوانی ولسمشر مرستیال، دیک چینی په ۲۰۰۸ کال کې ریګا ته د خپل سفر په ترڅ کې ویلی و، "طبعاً موږ د دغې کړۍ د بشپړول په لټه کې یو". په همدې موخه، "متحدو ایالتونو له خپلې خاورې بهر له ۷۵۰ څخه د زیاتو پوځي اډو یوه کړۍ د روسیې او چین په شا و خوا جوړه کړې ده، چې په هغو کې د فارس د خلیج په سیمه کې د تیلو د ګټو د خوندي کولو پوځي اډې هم شاملې دي" [۷]. سربیره پر دې متحدو ایالتونو خپل ۰۰۰ .۴۰۰ پوځیان د نړۍ له ۵۰ څخه په زیاتو هیوادونو او ټاپوګانو کې ځای په ځای کړي دي، چې پرته له عراق او افغانستان څخه تر ټولو زیات هغوي په المان کې، لږ تر لږه،۰۰۰ .۶۴ ، په جاپان کې څه نا څه ۰۰۰ .۴۰ او په سویلی کوریا کې کابو ۰۰۰ .۳۰ دي. همدارنګه په ازادو سمندرونو کې نور ۰۰۰ .۲۰ پوځیان د دغه

هیواد په مدرنو وسلو سمبال جنګي بیړیو کې تک راتک کوي، چې شپږ دا ډول بیړۍ د مدیتراني په سمندرګی کې، دوه هغه د اتلانتیک په سمندر کې، پنځه نورې د هند په سمندر کې او ۷ هغه په ارام سمندر کې ځای په ځای دي [۸].

نو ځکه چین او روسیې د ناتو او په تیره د امریکا د متحدو ایالتونو د دا ډول پوځي سیاست د ګواښ له امله او د خپلو ستراتیژیکو ګټو او زمکنی بشپړتیا د ساتنې په موخه د شانګهای د سازمان په ادانه کې په امنیتي، اقتصادي ـ کلتوري او ان پوځي برخو کې ګډه همکاری پیل او د نوو وسلو په پراختیا او جوړولو لاس پورې کړي. د بیلګې په توګه چین د اتمي وسلو پر پراختیا سربیره د ستورو جګړه پیل کړي. د روسیې فدراسیون هم په دې هڅه کې دي، چې خپل پوځ د سوخوی ۳۵ بم غورځونکو الوتکو تر څنګ په اس ـ ۳۰۰ ، اس ـ ۴۰۰ او توپول ـ ام توغندیو سمبال کړي او سربیره پر دې د متحدو ایالتونو له خوا په ختیځه اروپا [د چک په جمهوریت او پولند] کې د توغندیو د دفاعی سیستم په وړاندې د عکس العمل په توګه پلان لري، چې په بیلابیلو سیمو کې خپل د سکندر په نامه توغندي ځای په ځای کړي. په دې اړه د روسیې پخوانی ولسمشر پوتین ان د نړیوال امنیت د ۴۳ کنفرانس برخه والو ته په ترخو او سختو کلماتو ویلی و: " موږ باید په دې اړه له ځانه عکس العمل وښیو. [د متحدو ایالتونو] د توغندیو دغه دفاعي سیستم به د روسیې په وړاندې بې اغیزه وي. ځکه موږ داسي وسلې په واک کې لرو، چې دغه سیستم له منځه یووړي شي" [۹]. همدارنګه د متحدو ایالتونو د دولت او د هغه د ټلوالې له خوا، په نړیوالو چارو کې له پوځي وسایلو څخه د کار اخیستنې په اړه نوموړی د خپل هیواد دریځ لا په ښه توګه روښانه او زیاته کړه: "موږ د وخت د شاهدانو په توګه وینو، چې په نړیوالو چارو کې له پوځي وسایلو څخه له حده زیات او له کنتروله وتلې ګټه اخیستل کیږي، چې پایله یې د پر له پسی کړکیچونو رامنځته کیدل ". او" ... دا ډول کړنې د نړیوال بنسټیزو حقوقو تر پښو لاندې کول او [په تیره بیا] وسله والې سیالی ته لمن وهل دي" [۱۰]. په ریښتیا هم ځینو نورو هیوادونو د بیلګې په توګه ایران او سویلی کوریا د اتمي وسلو په جوړولو او پراختیا لاس پورې کړی دی. ځکه دغه او د نړۍ داسي نور هیوادونه په اوسنې نړیوالې کړکیچنې وضعې کې، اتمي وسله د خپلې زمکنۍ بشپړتیا لپاره یو ډول تضمین ګڼي. لکه څنګه چې یو هندی افسر وایي: " که اتمي وسلې خاوند نه یاست، له متحدو ایالتونو سره به ډغري نه وهي"[۱۱]. ان امریکایی ستراتیژیست، ساموېل هانتینګتون هم په دې اعتراف کړی، چې د نالویدیزې نړۍ سیاسي او پوځي مشرانو دا زده کړه کړې:" هر [هیواد] چې اتمي وسله په واک ولري، متحده ایالتونه له هغه سره جګړې ته زړه نه ښه کوي" [۱۲].

له پورتنې ارزونې دا پایله ترلاسه کیږي، چې د لویدیزې نړۍ پوځي سیاست او د دوي د برلاسی (هژمونې) پراختیا د وسله والې سیالۍ او د اتمي وسلو د پراختیا بنسټیز لامَل ګڼل کیږي.

نور بیا

اخځ:


1. http://de.wikipedia.org/wiki/M%C3%Bcnchner_Konferenz_f%C3%BCr_Sicherheitspolitik
2. Steinmeier, Frank-Walter: Rede bei der 45. Münchener Sicherheitskonferenz, 06.02.09
3. Schmid, Fred/ Schreer: Nato, Rüstung, Krieg, Grafik-Report isw, Nr. 12, München, 2009, S. 2,
4. Ebenda, S. 3
5. Steinmeier, Frank-Walter: Rede bei der 45. Münchener Sicherheitskonferenz, 06.02.09
6. Schmid, Fred/ Schreer: Nato, Rüstung, Krieg, Grafik-Report isw, Nr. 12, München, 2009, S. 4
7. Ebenda, S. 23
8. Ebenda, S. 23

۹ ـ بهاند، شریف: نړیوال امنیت او نړیوال مسؤلیت، لومړې برخه، ۲۰۰۷، وګورئ په:
http://www.afghan-german.de/upload/Tahlilha_PDF/bahand_sharif_amniat_wa_masooliat.pdf

۱۰ ـ بهاند، شریف: نړیوال امنیت او نړیوال مسؤلیت، لومړې برخه، ۲۰۰۷

11. Huntington, Samuel P.: Kampf der Kulturen, München, 2002, S. 297
12. Ebenda, S. 297



افغان جرمن آنلاین شما را صمیمانه به همکاری دعوت می نماید. لطفاً به آدرس ذیل با ما تماس بگیرید
maqalat@afghan-german.de